DAILY ارادهٔ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۷۴۴

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

لسم کال - دویمه دوره، ۷٤٤ مه ګڼه، پر له پسې ۱۸۱۱ ګڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د وري ۱۵ مه - د یکشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د ربیع الثاني ۱۸ مه ۲۰۱۰ د اپریل ۴ مه

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

الماني پوځیانو د ملي اردو ۶ تنه سرتېري ووژل

الماني پوځیانو په کندوز کې د ملي اردو پر یوه رنجر ډزې وکړې او ۶ سرتېري یې ووژل.

دغه پېښه د کندوز د چاردرې د د خاکنې په سیمه کې ورمه شپه رامنځته شوه.

د کندوز والي انجنیر محمد عمر د وري پر ۱۴ مه وویل: «دا یوه تېروتنه وه.»

په یاده شوې سیمه کې په سوله ساتو خواکونو کې شامل الماني پوځیان امنیتي کمربند لري.

والي زیاتوي، چې د یادې شوې پېښې په اړه ګډ کمېسیون جوړ شوی او څېړنې به وکړي.

۳مخ

کرزی دې د تېر پرځای راتلونکي ته فکر وکړي



د امریکا متحدو ایالاتو د تېر کال د ولسمشرۍ په ټولټاکنو کې د پراخو درغلیو په اړه د ولسمشر حامد کرزي تر څرګندونو وروسته، هغه عقب ګرا بللی دی.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت یوه چارواکي ویلي دي: «کرزی پر هغې موضوع باندې فکر کوي، چې تېر کال ترسره شوې، په داسې حال کې، چې دی باید د راتلونکو کلونو په اړه فکر وکړي.»

ولسمشر کرزي د تېرې پنجشنبې پر ورځ د تېر کال په ولسمشرۍ او د ولایتي شوراګانو په ټولټاکنو کې بهرنیان په پراخو درغلیو تورن کړل او ویې ویل، چې دوی هڅه کوله، چې د دغه پروګرام له لارې په افغانستان کې یو ګوډاګی دولت جوړ کړي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت همدارنګه ویلي، چې ولسمشر کرزي د جمعې پرورځ (د وري پر ۱۳ مه)، د امریکا د بهرنیو چارو له وزیرې هیلري کلنټن سره په یوې ټېلېفوني اړیکه کې د خپلو څرګندونو په اړه توضحیات ورکړل.

سرچینې زیاته کړه: «ولسمشر کرزي د دواړو هېوادونو ترمنځ د همکارۍ پر ژمنو یو ځل بیا ټینګار وکړ او په افغانستان کې یې د نړیوالې ټولنې له مرستو او قربانیو څخه مننه وکړه.»

دغه چارواکي زیاته کړه، چې په کابل کې د امریکا د متحدو ایالاتو سفیر کارل ایکن بیري ورمه ورځ له کرزي سره لیدلي او د هغه د څرګندونو په اړه یې د توضیحاتو غوښتنه کړې ده.

سپینې ماڼۍ هم د کرزي څرګندونې خوروونکې بللې دي.

د امریکا د ولسمشر ویاند رابرټ ګیبس ویلي دي، چې واشنګټن د کرزي د تېرې پنجشنبې د ورځې د څرګندونو په اړه اندېښمن دی.

په داسې حال کې، چې د تېر کال په ټولټاکنو کې د درغلیو په سر د کابل او لوېدیځ ترمنځ ناندریو زور موندلی، خو سپینه ماڼۍ وایي، چې په راتلونکې میاشت کې به په سپینه ماڼۍ کې د کرزي او اوباما کتنه ترسره شي.

۳مخ

د کزري حقوقي سلاکاران د اجرایې او مقننې قوې ترمنځ ستونزې رامنځته کوي

د ولسي جرګې مشر د حامد کرزي حقوقي سلاکاران تورن کړل، چې قوانین په سمه توګه نه شي تفسیرولی او د اجرایې او مقننې قوې ترمنځ ستونزې رامنځته کوي.

د ولسي جرګې رییس محمد یونس قانوني، چې د دغې جرګې له خوا یې د ټولټاکنو په اړه د ولسمشر حامد کرزي د تقنیني فرمان د رد له پرېکړې څخه تګه کوله، وویل چې د ولسمشر سلاکاران نه شي کولی، چې قوانین په سمه توګه تفسیر کړي.

قانوني زیاته کړه، چې دغه شان سلاکاران چې نه شي کولی خپلې دندې په سمه توګه په مخ بوځي، نو باید له دندې لاس په سر شي.

هغه دا هم وویل، چې ولسمشر ولسي جرګې ته یو مکتوب استولی او غوښتنه یې کړې، چې د رد شوي تقنیني فرمان په اړه له سره غور وکړي. قانوني، د وري پر ۱۴مه، د دې جرګې په عمومي غونډه کې وویل، چې دغه رسمي لیک د ولسمشر حامد کرزي له لوري د پنجشنبې په ورځ استول شوی دی. سره له دې چې قانوني ونه ویل، چې دوی به پر خپلې پرېکړې بیا کتنه وکړي او که نه؟ خو زیاته یې کړه: «زموږ پرېکړه د اساسي قانون مطابق ده.» قانوني، همدارنګه د عدلیې وزارت د تقنین

۳مخ

کرزی دې په سوله کې بېړه نه کوي

د ناټو او امریکا جګپوړو مقاماتو له ولسمشر کرزي غوښتي، چې له خپلو وسلوالو مخالفانو سره په خبرو او پخلاینه کې له بېړې کار وانه خلي.

د ناټو او امریکا د حکومت سلاکاروانو دا غوښتنه وروسته له دې کړې، چې د ګلبدین حکمتیار د اسلامي حزب یوه پلاوي په کابل کې د ولسمشر کرزي په شمول له بېلابېلو دولتي چارواکو سره ولیدل او د خپل سفر په پای کې یې د نورو لیدنو کتنو پر ضرورت ټینګار وکړ.

په همدې حال کې ځینو امریکایي پوځي چارواکو تور لګولی، چې کرزی له طالبانو سره پټ تماسونه لري اودوی یې د دغو تماسونو له جریانه بې خبره ساتلي دي.

ولسمشر کرزی غواړي، چې له خپلو وسلوالو مخالفانو سره د پخلاینې پلان د ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره د راتلونکي ثور پر دوولسمه د سولې مشورتي جرګه وروبولي.

د رویټرز خبري اژانس په وینا لوېدیځ چارواکي وایي، په داسې حال کې چې د دې جرګې لپاره هلې ځلې روانې دي، پاکستان او د دولت ځینومخالفو ډلو د سولې په خبرو کې د یو برلاسي دریځ د خپلولو لپاره هلې ځلې پیل کړې دي.

په افغانستان کې د امریکا اوناټو قواوو د عمومي قوماندان سلاکار ګریم لم وویل هغه اړخونه چې ډېر دخیل دي، لکه اسلام اباد، واشنګټن او کابل کولای شي

۳مخ



د کابل – واشنګټن ترمنځ اختلافات افغان ملت ته څه ورکولای شي؟

۲

اعلام آماده کی امریکا برای انتقال نیرو و تجهیزات از عراق به افغانستان

یکی از قوماندانان اردوی امریکا از آماده گی این کشور برای انتقال نیرو و تجهیزات از عراق به افغانستان خبر داد.

به گزارش سایت انترنتی شبکهٔ الجزیره، ویلیام وبستر از قوماندانان اردوی امریکا، در گفتگو با روزنامه نگاران کویتی اظهار داشت که امریکا آماده است، تا در بزرگترین عملیات نقل و انتقال بعد از جنگ جهانی دوم، تجهیزات و نیروهای خود را از عراق به افغانستان منتقل کند.

وی همچنین افزود که اردوی امریکا در نظر دارد، سریعا این عملیات را به انجام رساند، چرا که نزدیک به سه میلیون قطعه از تجهیزات را باید منتقل کند.

ویلیام وبستر در ادامه اظهار داشت که باقی تجهیزات در عراق می‌ماند و برخی به امریکا بازگردانده می‌شود.

وی همچنین افزود که انتقال این تجهیزات با هدف تجهیز نیروهای امریکایی موجود در افغانستان است. این در حالی است که انتقال تجهیزات و نیروها از طریق راه‌های خشکی، دریایی و راه آهن و از طریق کشورهای ازبکستان، پاکستان و برخی دیگر از کشورهای آسیای میانه، صورت می‌گیرد.

پنتاگون تعداد "بالون‌های تجسسی" خود را در افغانستان افزایش می‌دهد

یکی از مقام‌های بلندپایهٔ وزارت دفاع امریکا اظهار داشت: پنتاگون در تلاش است، تجهیزات بازرسی و نظارتی بیشتر برای اردوی امریکا در افغانستان مهیا کند، تا سربازان امریکایی با امکانات بیشتر، وارد جنگ افغانستان در فصل تابستان شوند.

آشتون کارتر، یکی از مقام‌های بلندپایهٔ وزارت دفاع امریکا خاطرنشان ساخت: پیروزی در افغانستان به طور چشمگیری بسته گی به سرویس‌های پشتیبانی و ارسال تجهیزات نظامی برای کمک به سربازان امریکایی دارد.

وی اظهار داشت: افغانستان آخرین مکانی است که شما خواهان جنگ در آن هستید.

کارتر در کنفرانس مرکز

ص۳

شبکهٔ خبری سی. ان. ان:

ایران در پی سبوتاژ عملیات قریب الوقوع ناتو در قندهار است

هم اکنون، ایران جهت تقویت طالبان، در حال انتقال سلاح و مهمات به ولایت قندهار است

شبکهٔ خبری سی. ان .ان گزارش داد که ایران برای شکست عملیات قریب‌الوقوع نیروهای ایتلاف در قندهار، به طالبان کمک می‌کند و

سلاح های کمک شدهٔ ایران به طالبان در این اواخر به دست نیروهای امریکایی و افغان افتاده است. خبرنگار حوزهٔ نظامی سی.ان.ان که مسوول پوشش اخبار پنتاگون و وزارت دفاع امریکا در این شبکه است، در گزارشی به نقل از یک منبع آگاه در پنتاگون، مدعی شد که ایران سلاح و مهمات را به طالبان در ولایت قندهار انتقال می‌دهد. این مجری همچنان خاطر نشان کرد که سریال و شماره‌های حک شده بر روی سلاح‌ها نشان می‌دهد که این مهمات متعلق به ایران است. این در حالی است که هفتهٔ گذشته نیز، مایکل مولن لوی درستیز امریکا در کنفرانس مطبوعاتی یی در جمع خبرنگاران در افغانستان گفت که ایران، طالبان در جنوب افغانستان را آموزش می‌دهد.

به همین منظور، این کشور سلاح در اختیار طالبان قرار می‌دهد.

به گزارش این شبکه، نمونه هایی از این

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

کرزی و کمیسیون انتخابات

حامد کرزی که زیر فشار شدیدی از سوی امریکاییان قرار دارد و برخی ها به این باور اند که اوباما در سفر اخیر و غیر مترقبه اش به کابل سخنان درشتی با او داشته است و این را به طور علنی ابراز داشت که کرزی باید فساد اداری را در دولتش ریشه کن کند و بعد جنرال مک مولن لوی درستیز قوای امریکایی گفت، در صورتی که وضعیت اداره در ولایت قندهار خوب نشود و فساد اداری از این ولایت برچیده نشود، ممکن نیست که عملیات نظامی در این کشور نتیجه دهد. همچنان او در مورد اعضای کمیسیون برگزاری انتخابات نیز، زیر فشار شدید خارجی ها قرار دارد. به قول او خارجی ها نمی خواهند که داکتر عزیز لودین و داوود نجفی دیگر در این کمیسیون حضور داشته باشند. کرزی که در دیدار با اعضای این کمیسیون شدیدا عصبانی و احساساتی بود، از منافع ملی مردم افغانستان و مداخلات خارجی ها در نقض این منافع ملی صحبت کرد و اخطار داد که اگر بیشتر مداخله کنند، درگیری های یاغیگرایانهٔ فعلی به یک نبرد ملی بر ضد حضور خارجی ها تبدیل خواهد شد و همهٔ افغانستان را اشغال شده و دولت آنرا نوکر خواهند خواند. وی از گلبرایت امریکایی که قبلا به صفت معاون یوناما کار می کرد و در انتخابات ریاست جمهوری نقش عمده یی داشت و گفته می شد که از افراد گروپ هالبروک است و بعد به وسیلهٔ کای آیده از کار بر کنار شد،شدیدا انتقاد کرد.

اینکه کرزی چرا با امریکاییان در رویارویی قرار گرفته، بعد از به قدرت رسیدن اوباما و سقوط جمهوری خواهان کرزی در اختلاف با دموکراتان قرار گرفت و حتا زمانی اوباما گفته بود که نمی خواهد با کرزی رو به رو شود، جوبایدن در ضیافت شام کرزی در ارگ ریاست جمهوری با کرزی برخورد داشت و وقتی کرزی تمام بدبختی های موجود را به گردن خارجی ها انداخت، جوبایدن ضیافت را نیمه تمام ماند و از ارگ خارج شد. هالبروک فرستادهٔ خاص اوباما در امور افغانستان و پاکستان نیز، چند بار با کرزی در مورد فساد و مواد مخدر برخورد داشت، اما کرزی در تمام حالات کاستی ها را به گردن خارجی ها و ناشی از دست اندازی آنها در ادارهٔ افغانستان یاد کرده و با امریکاییان برخورد های تندی داشته است. بسیاری به این باور اند که سفر غیر مترقبهٔ اوباما به کابل و عملیاتی که ناتو قصد دارد، در قندهار به راه بیاندازد، با هم در ارتباط بوده و اوباما نارضایتی خود را از ادارهٔ افغانستان و اخطار برای تغییر فوری به کرزی داشته است. لوی درستیز مایک مولن نیز، بعد از اوباما سفری به کابل داشت و بار دیگر مسألهٔ اداره در قندهار را مطرح ساخت و گفت که اگر این اداره بهبود پیدا نکند، ممکن نیست که عملیات نظامی در قندهار به مقصد خود برسد.

کرزی در این نشست به نحوی ابراز داشت که زیر فشار خارجی ها مجبور به تغییر دادن عزیز لودین و داوود نجفی می باشد و او این افراد را در کارهای دیگری خواهد گماشت، تا نقش ملی خود را ایفا نمایند، اینکه بعد از این رییس این کمیسیون کی خواهد شد، تا حال روشن نیست، اما هر کسی که بیاید وظیفهٔ سنگینی به دوش خواهد داشت، چون در آستانهٔ برگزاری انتخابات پارلمانی هستیم. چیزی که مورد استقبال داکتر عبدالله بازندهٔ اصلی انتخابات ریاست جمهوری قرار دارد و فکر می کند که با این تغییر، ستارهٔ اقبال او بالا خواهد رفت، اما بسیاری به این باور اند که با این تغییر و این فشار، دست های مداخله گر در انتخابات پارلمانی افغانستان بیشتر باز خواهد شد.

د کابل - واشنګټن ترمنځ اختلافات افغان ملت ته څه ورکولای شي؟

امان الله نصرت



د ولسمشرحامد کرزي د لومړۍ دورې له ختمېدو او د امریکا د جمهوررییس بارك اوباما ترټاکل کېدو وروسته د واشنګټن ـ کابل ترمنځ اړیکي مخ په خرابېدو شول او د کرزي پر اداري یې نیوکې پیل کړې. امریکا نه غوښتل، چې جمهور رییس حامد کرزی د دویم ځل لپاره د افغانستان جمهور رییس شي، نو۱۳۸۸ لمریز کال د اسد د نهه ویشتمې نېټې په انتخاباتو یې کرزی پر پراخو درغلیو تورن کړ. جمهور رییس کرزی یې دې اړ ایست، چې دویم ځل انتخاباتو ته غاړه کېږدي. دکرزي نژدې سیال ډاکترعبدالله عبدالله حاضر نه شو، چې دویم ځل انتخاب ترسره کړي.

له هغه ورځې، چې جمهور رییس حامد کرزی د افغانستان جمهور رییس اعلان شو د کابل ـ واشنګټن ترمنځ اړیکي په روښانه توګه مخ په خرابېدو شول، آن تردې، چې د جمهور رییس کرزي اداري ته یې ترشپږو میاشتو وخت ورکړ، چې په خپله اداره کې اصلاحات راولي، د فساد پرضد جدي مبارزه وکړي، که نه نوامریکا او نړیواله ټولنه به خپلې مرستې بندې کړي.

د جمهور رییس کرزي تر ټاکل کېدو وروسته سپینې مانۍ له هراخیزو لیدنو او بحثونو وروسته د افغانستان لپاره خپل نوې ستراتیژي اعلان کړه، چې په میاشتو میاشتو افغان ملت اونړیواله ټولنه ورته سترګې په لاره وه، په نوې ستراتیژۍ کې د افغانستان د لانجې د حل په خاطر د دېرشو زرو تازه دمو سرتېرو استلو پرېکړه وکړه، چې تر اوسه یې د را رسېدو لومړي پړاونه بشپړ شوي دي.

په ستراتیژۍ کې د بهرنیو سرتېرو د ایستلو په اړه هم ویل شوي، چې تر اتلسو میاشتو وروسته به د نړیوالو سرتېرو د بېرته ایستلو لړۍ پیل شي.

دکابل اداري تراوسه داسې کوم کارنه دی کړی، چې نړیوالوټولنې ته د منلو وړ وي، جمهوررییس خپله راتلونکې کابینه نه ده بشپړه کړې، پاتې خو داداري فساد ضد مبارزه شوه. په دې ورستیوکې یوپریل پسې ګاونډیو هېوادنوته د ولسمشرکرزي سفرونو د واشنګټن کابل ترمنځ بې باورۍ ته زور ورکړ او د امریکا جمهور رییس بارك اوباما ارشو،چې کابل سفر ته وکړي او د اوښیي، چې په افغانستان کې روان حالت د دوی تر کنترول لاندې دی. رابه شو اصلي موضوع ته هغه دا،چې جمهور رییس حامد کرزي د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون له مسولینو او کارکونکو سره په خبرو کې د ده په وینا پر بهرنیانو تور ولګاوه، چې په افغانستان کې یې د جمهوري ریاست په انتخاباتو کې د درغلیو شاته لاس درلود.

جمهور رییس حامد کرزي دا خبرې هغه مهال وکړې، چې د ولسې جرګې له خوا د یوه تقنیني فرمان له مخې د انتخاباتو په قانون کې وړاندیز شوي تعدیلات په لوي اکثریت رد کړل.

د جمهور رییس کرزي تر څرګندونوڅوساعته وروسته د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاند فلیپ کرولي د کرزي هغه تورونه ردکړل، چې ګوندې یوشمیر بهرنیانو د جمهور رییس د انتخاباتو په درغلیو کې لاس درلود اوغوښتل یې د ده موقف کمزوری کړي.

د امریکادبهرنیوچارو د وزارت ویاند په دې اړه وویل، چې د متحدوایالاتو د جمهور رییس بارك اوباما اداره د جمهور رییس حامد کرزي داډول قضاوت ردوي. داچې دکرزي دغه څرګندونې وروسته په افغانستان کې څه ډول تاثیر درلودلای شي، دې ته به وخت ځواب ووایي، خو امریکا نه تنها د جمهور رییس په خبرو باك نه را وړي، بلکې د امریکا د بهرنیوچارو د وزارت ویاند فلیپ کرولي پر جمهور رییس غږ وکړ، چې مخکې ګام کېږدي افغانان او نړیواله ټولنه پر دې قانع کړي، چې د ده اداره د اداري فساد د مخنیوي لپاره کافي اقدامات کوي. فلیپ کرولي وویل، په راتلونکې کې د افغانستان د ادارو په رهبرۍ کې ضعف د هېڅ لوري په ګټه نه دی.

بل پلو د ولسي جرګې غړو وویل، چې دا تعدیلات په راتلونکې کې د انتخاباتو شفافیت نه شي ساتلای.په دې کې د بحث یوه مسئله د انتخاباتو په کمېسیون کې د بهرنیانو نه شتوالی و، خو جمهور رییس کرزي وویل، چې ولسي جرګه د مسئلې

۳مخ

د کرزي ترخې خبرې او لوېدیځ ذهنیتونه

د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې هیلري کلنتن پر ټېلېفون له افغان ولسمشر حامد کرزي سره د هغه تر لوېدیځ ضد څرګندونو وروسته، خبرې وکړې.

ولسمشر کرزي د پنجشنبې پر ورځ لوېدیځ سفارتونه تورن کړل، چې د افغانستان په ټاکنو کې یې ټګي کړې.

د ټاکنو چارواکو ته یې بډې ورکړي او ګواښونه یې ورته کړي او هڅه یې کړې، چې د هغه حکومت کمزوری کړي.

د امریکا د بهرنیو چارو په وزارت کې د بي بي سي خبریاله کېم غطاس په خپل رپوټ کې وایي، چې ولسمشر کرزي مېرمن کلنتن ته ټېلېفون کړی او ۲۵ دقیقې ورسره غږېدلی دی.

د بهرنیو چارو وزارت ویاند پي جي کراولي وویل، چې خبرې رغوونکې وې.

هغه دا هم وویل چې ولسمشر کرزي د دواړو هېوادو پر ملګرتیا خپله ژمنه بیا تکرار کړه او د نړیوالې ټولنې د قربانیو درناوی یې وکړ.

د امریکا یوه بل جګپوړي چارواکي وویل، افغان مشر مېرمن کلنتن ته ویلي چې نه یې غوښتل وینا یې دومره ترخه وبرېښي.

خو دغې وینا په واشنګټن کې دا اندېښنې راوټکولې، چې د یوه متحد په توګه پر حامد کرزي، په داسې یوه حالت کې چې نژدې ۹۰ زره امریکایي عسکر په افغانستان کې پراته دي، څومره باور کېدلی شي.

د ولسمشر کرزي ځینې څرګندونې له ورایه خوروونکې وې او یوه رښتونې اندېښنه یې راټوکېدلې ده.

جګپوړو امریکایي چارواکو دا هم وویل چې ښاغلي کرزي ونه شوای کړی، چې د ولسمشرۍ تر ناندره ییزو ټاکنو وروسته، نوې پاڼه راواوړي او په دې سره یې یادونه کوله چې مېرمن کلنتن ترې وغوښتل چې راځئ "دا نور پرېږدئ او پرمخ درومئ."

د ولسمشر حامد کرزي وروستۍ څرګندونې چې پرلویدیځ بېساري نیوکه بلل کېږي، د ډېرو لوریو تاوده غبرګونونه راوپارول.

د سپینې مانۍ ویاند رابرټ ګېبس وویل: "د ولسمشر کرزي ځینې څرګندونې له ورایه خوروونکې وې او یوه رښتونې اندېښنه یې راټوکېدلې ده."

د بهرنیو چارو وزارت هم وویل چې په کابل کې یې خپل سفیر کارل ایکن بیرې ارګ ته استولی، چې له افغان ولسمشر سره سملاسي کتنه وکړي.

ښاغلي ګېبس وویل ددغې کتنې هدف دا و چې له ولسمشر کرزي نه د هغه د ځینو خبرو د ماهیت په اړه توضیحات وغواړي."

د جنرال ایکن بیرې او ولسمشر حامد کرزي د خبرو ډېرو جزیاتو رسنیو ته لاره نه ده موندلی، خو د متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت یوه ویاند وویل، مقصد یې دا و چې د ولسمشر کرزي د خبرو اصلي مانا خاته معلومه کړي.

په کابل او واشنګټن کې دې څرګندونو پر هغې کتنې سیوری وغورځاوه، چې ټاکل شوې ده د په میاشت کې د افغانستان او امریکا د ولسمشرانو ترمنځ وشي.

د دغې کتنې بلنه ولسمشر بارك اوباما کابل ته د وروستۍ کتنې پر مهال وکړه او سپینه مانۍ وایي چې دغه بلنه د اوس لپاره هماغسې پر ځای ده.

ولسمشر حامد کرزي د پنجشنبې په ورځ په یوه بېساري وینا کې، نړیوال تورن کړل، چې په تېرو ولسمشریزو ټاکنو کې یې لاسوهنه کړې وه.

هغه وویل د راروانو پارلماني ټاکنو لپاره هم طرحه همدغه ده، چې د هغه په وینا د ده په څېر د وکیلانو او شورا درنښت ته هم زیان واړوي.

حامد کرزي ګواښنه کړې وه، چې دغه ډول لاسوهنې به د ګټې پر ځای تاوان پېښ کړي، د واکمنې درنښت به له منځه یوسي او روان بغاوت ته به قانوني بڼه وبښي.

د بي بي سي د رپوټ له مخې، حامد کرزي دغه څرګندونې څو ساعته وروسته تر هغه وکړې، چې ولسي جرګې یې د ټاکنو په قانون کې

۳مخ

کشته شدن سربازان آلمانی، موضوع ...

فرستادند و اکنون نیز، این وظیفهٔ آنان است که آنها را از آنجا خارج کنند.

نیکولاس اشنایدر رهبر موقت کلیسای پروتستان‌ها نیز چند ساعت بعد از حملهٔ کندز هشدار داد که مناقشه در افغانستان در حال خارج شدن از کنترول است.

وی گفت: ماموریت ناتو در افغانستان در معرض از دست دادن مشروعیت خود است.

اشنایدر از آلمان خواست که یک نیروی اشغالگر درازمدت در افغانستان نباشد، در حال حاضر، حدود ۴۵۰۰سرباز آلمانی در افغانستان حضور دارند که قرار است، ۷۰۰نفر دیگر نیز به آنان اضافه شود.

این کشور سومین نیرو را در بین کشورهای موجود بعد از امریکا و بریتانیا در افغانستان دارد.

مقام های آلمان بخوبی واقف هستند که افزایش شمار کشته‌شده گان نه فقط در بین سربازان این کشور، بلکه در بین غیرنظامیان افغان فشار را بردولت برای اجرای سریع برنامه‌هایی جهت عقب نشینی از افغانستان، افزایش می‌دهد.

آخرین خبر کشته شدن سربازان آلمانی در افغانستان توجهات را روی گروه حقیقت یاب پارلمانی متمرکز می‌کند که دربارهٔ بمباردمان هوایی ناتو در سپتمبر سال پیش در کندز که به کشته و مجروح شدن حداقل ۱۴۲تن انجامید، تحقیق می‌کند.

احزاب مخالف آلمان در پارلمان از مرکل خواسته بودند که با شرکت در جلسه یی آنها را از این مسأله مطلع سازد که آیا وی عمدا اطلاعات مربوط به قربانیان غیرنظامی در جریان این حمله را به خاطر انتخابات پارلمانی سراسری در میزان سال گذشته، محرمانه نگهداشته است.

قتل عام در کندز موجب طوفانی سیاسی در آلمان شد و استعفای وزیر دفاع سابق و وولفگانگ اشنایدر هان بالاترین نظامی آلمان را نیز در پی داشت.

اکنون چالش اصلی که دولت مرکل با آن مواجه است:

۱. اگر وضعیت امنیتی افغانستان تثبیت نشود، چه اتفاقی می‌افتد.

۲. اگر سربازان آلمانی مجبور به ماندن درازمدت در افغانستان شوند چه خواهد شد.

آیا افکار عمومی آلمان همچنان از این اقدام حمایت می‌کند و یا در انتخابات بعدی با رای خود طغیان خواهد کرد.

د کابل - واشنګټن ترمنځ اختلافات افغان ملت...

حساسیت او اهمیت ته نه ده متوجه شوې.

ده د یو شمېر بهرنیو چارواکو نومونه واخیستل او ویې ویل، چې د افغانستان له ارضي تمامیت او خپلواکۍ په شدت دفاع وشي.

په عین حال کې، د جمهوري ریاست د انتخاباتو پر مهال په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پخواني خاص استازي مرستیال پیتر ګالبرېت له خبري رسنیو سره په مرکو کې د جمهور رییس حامد کرزي دا تورونه رد کړي او د هغه د خبرو حقیقت یې تر پوښتنې لاندې راوستی دی.

ګالبریټ وایي کرزي ونه شو کولای د افغانستان د ولسمشرۍ په ټاکنو کې د پراخو درغلیو ستونزه ښه په ډاګه کړي او ټینګار یې دادی چې د ولسمشر کرزي دنده د هغه په خبره مشروعیت نه لري.

د کرزي وروستیو څرګندونو پر پیټر ګالبریټ سربېره د ټاکنو د شکایتونو د کمېسیون پخواني مشر ګرنټ کیپن غبرګون هم راپارولی دی او له ولسمشره یې پوښتلي، چې که په ټاکنو کې درغلی نه وي شوي، نو بیا ولې د ده په خبره د ټاکنو کمېسیون خپل زرګونه کارکونکي له دندو لرې کړل.

پوښتنه داده، چې په داسې حساس وخت کې، چې له یوې خوا دولت له وسلوالو مخالفانو سره پر خبرو لګیا دی او بل پلو د امریکا او نړیوالې ټولنې انتقادونه پر دولت ورځ تربلې زیاتېږي، دا ډول څرګندوې څه عواقب له ځانه سره در لودای شي.

دا خو ښکاره خبره، چې نړیواله ټولنه په افغانستان کې خپل اهداف لاس ته راوړي او خپلو اهدافوته په هر شکل چې وي، ځان رسولای شي. د دغه خبرو زیان یوازې اویوازې افغان ملت ته متوجه دی، چې تېرې درې لسیزې یې کړاونونه لیدلي دي او دوی به یې بیا هم ګالي.

الماني پوځیانو د ملي اردو ۶ تنه ...

که څه هم د ملي اردو ویشتل شوی رنجر موټر له سیمې څخه وړل شوی، خو ماتې ښیښې، وینې او د غوښو وړې - وړې ټوټې اوس هم ښکاري.

همدارنګه د ملي اردو خواکونه په سیمه کې ولاړ دي او د برید له ځایه یې تیرې راتاوې کړې دي.

قدرت الله، چې د کندوز ښار اړوند خاکنې په سیمه کې هتې لري، ویلي چې په یاده شوې سیمه کې الماني خواکونه ولاړ وو.

د هغه په وینا، یو ناڅاپه د شپې ډزې پیل شوې، خو څوک له کورونو ونه وتل او دوی وروسته خبر شول، چې د ملي اردو پر موټر ډزې شوې دي.

د پژواک د رپوټ له مخې، نژدې دوې میاشتې وړاندې په یاده سیمه کې الماني خواکونو پر یوه کرولا موټر ډزې کړې وې، چې یو ملکي وګړی په کې وژل شوی او بل ټپي و.

همدارنګه، شاوخوا یوه میاشت وړاندې د کندوز په امام صاحب ولسوالۍ کې امریکایي ځانګړو خواکونو پر پولیسو هوایي برید کړی و او ۷ تنه یې وژلي وو.

کرزی دې په سوله کې بېړه نه ...

د سرکال ترپایه د سولې په شرایطو سره سلا شي.

خودی وایي چې د سولې په چارو کې بېړه به نه ښه وي او نه دوامداره.

د ډېرو راپورونو له مخې د افغانستان ولسمشرهڅه کړې وه، چې د طالبانو له مرستیال مشرملابرادر سره تماس ونیسي، خو د هغه د دې هڅې په نتیجه کې پاکستان ملابرادر ونیوه چې تراوسه پورې په دغه هېواد کې بندي دی.

د جنرال مک کرسټل سلاکار د امریکایي چارواکو دا پیغام په وروستیو کې ولسمشر کرزي ته ورساوه.

یو امریکایی چارواکی چې د سولې له روانو هلوځلو خبر دی او نه غواړي نوم یې واخیستل شي، رویټرزخبري اژانس ته ویلي، چې د سولې پروسه اسانه نه ده او اساسي اړخونه سره اختلافات لري، نو که چېرې پیل شي، کېدای شي درې کاله دوام وکړي.

دغه مقام نه دي ویلي، چې پرکوم اساس داسې تصور کوي.

ځینې امریکایي چارواکي اندېښمن دي، چې ولسمشر کرزی کېدای شي هڅه وکړي بې له دې چې د سولې د شرایطو په اړه د نظر یووالی رامنځته شي، له ځینو ډلو سره معامله وکړي او دا کار به د ځواکونو د پیاوړتیا هغه پروګرام، چې ولسمشر اوباما یې په نظرکې لري، له ځنډ سره مخامخ کړي.

د رویټرزخبري اژانس په وینا په داسې حال کې چې امریکا له عادي طالبانو سره د خبرو ملاتړ کوي، له طالب مشرانو سره خبرو ته زړه نه ښه کوي.

واشنګټن په دې نظر دی، چې لومړی طالبان باید د جنګ په ډګر کې کمزوري کړای شي او بیا وروسته ولسمشر کرزی له یوه پیاوړي دریځ سره ورسره خبرې وکړي.

خو په کابل کې یوه جګپوړي امریکایي دیپلومات ویلي دي، چې په واشنګټن کې داسې خوښبت او حرکت رامنځته شوی، چې باید د سولې او روغې په چارو کې پراخ نظر خپل کړای شي، حتا د ولسمشر هغه وړاندیز ته هم باید په پراخ نظر وکتل شي، چې د طالبانو له مشر ملا محمد عمر سره یې د مستقیمو خبرو لپاره کړی دی.

په افغانستان کې د امریکایي او ناټو قواوو د قوماندان سلاکار گرییم لم وایي، د سولې لپاره د مناسبو شرایطو رامنځته کېدل اهمیت لري.

دی وایي موږ اوس د سولې د خبرو په پړاو که نه یو، بلکې د مسایلو د درکولو په پروسې کې یو.

ده وویل چې د سولې د خبرو د پروسې اساسي اړخونه کېدای شي د روان میلادی کال ترپایه یوډول تفاهم ته سره ورسېږي، خو د دې پروسې بریالیتوب څوکاله وخت غواړي.

د تاند وېبپاڼې د رپوټ له مخې، د امریکایي او ناټو چارواکو دا څرګندونې، چې کرزی باید له طالبانو او د افغانستان د اوسني دولت له نورو وسلوالو مخالفانو سره په سوله کې له بېړې کار وانه خلي، کېدای شي په افغانستان کې د دغو ځواکونو د عزایمو او نیتونو په باب د افغانانو په ذهنونو کې شکونه زیات کړي.

د کرزي ترخې خبرې او لوېدیځ ...

د بدلون نافذ شوی فرمان رد کړ.

هغه په دغه کار کې د بهرنیانو لاس ښکېل وباله، چې لا د مخه یې د هغه په وینا د ټاکنو په قانون کې دده له بدلونو سره مخالفت کړی و.

د کزري حقوقي سلاکاران د اجرایې او...

د رییس څرګندونې، چې د ولسي جرګې د پرېکړې په اړه یې کړې وي، رد کړې.

د تقنین رییس سید یوسف حلیم ویلي وو، چې ولسي جرګه د اساسي قانون د ۱۰۹مې مادې پرېنسټ، د دې تقنیني فرمان چې د ټاکنو په اړه دی، د رد یا تصویب واک نه لري.

په دغې ماده کې ویل شوي، چې د تقنینیه دورې په وروستي کال کې د ټولټاکنو د قانون د بدلېدو وړاندیز د ملي شورا د عمومي غونډې په اجنډا کې نه شي نیول کېدلای.

د عدلیې وزارت د تقنین رییس همدارنګه ویلي وو، چې د ټاکنو په اړه تقنیني فرمان یې یوازې د کاري پروسیجر د بشپړولو په موخه ولسي جرګې ته استولی و. نوموړي زیاته کړه، چې یوازې راتلونکې ملي شورا کولای شي، چې د دغه تقنیني فرمان په اړه پرېکړه وکړي.

هغه وویل، چې اوسمهال د ټاکنو د ترسره کېدو لپاره همدا تقنیني فرمان د تطبیق وړ دی.

خو د ولسي جرګې مشر وایي، چې د اساسي قانون ۷۹مې مادې دغې جرګې ته د دا شان پرېکړې واک ورکړی دی.

په دغې ماده کې ویل شوي: «حکومت کولای شي د ولسي جرګې د تعطیل په موده کې له بودیجې او مالي چارو پرته، د بېړنۍ اړتیا پر اساس تقنیني فرمانونه ترتیب کړي. تقنیني فرمانونه د جمهور رییس تر توشیح وروسته د قانون حکم پیدا کوي. تقنیني فرمانونه باید د ملي شورا د لومړۍ غونډې تر جوړېدو وروسته د دېرشو ورځو په اوږدو کې هغې ته وړاندې شي او که د ملي شورا له خوا رد شي، خپل باور له لاسه ورکوي.»

ولسي جرګې د وري په ۱۱مه، د رایو په اکثریت د ټولټاکنو په اړه د ولسمشر حامد کرزي تقنیني فرمان رد کړ.

د پژواک د رپوټ له مخې، د ولسي جرګې د تقنین د کمېسیون غړي عالمي بلخي ویلي وو، چې دغه فرمان تر ۲۰ زیاتې ستونزې لري، چې درې یې ډېرې مهمې دي.

د هغه په وینا، په دغه تقنیني فرمان کې په ولسي جرګه کې د ښځو د څوکیو د شمېر نه څرګندول، د ولسي جرګې د غړو لپاره د تحصیلي درجې په پام کې نه نیول او د انتخاباتي شکایتونو د اورېدو د کمېسیون د میکانیزم په اړه ابهام، له دغو مهمو ستونزو څخه دي.

د نوموړي په وینا، په همدې دلیل دغه فرمان رد شو.

خو حامد کرزي د پنجشنبې په ورځ (د وري په ۱۲مه)، د ټولټاکنو د خپلواک کمېسیون کارکوونکو ته د وینا پرمهال د ولسي جرګې پر دغې پرېکړې نیوکه وکړه او زیاته یې کړه، چې دغې جرګې د بهرنیانو په خوښه دا کار کړی دی.

د ولسي جرګې مشر قانوني، دغه خبره رد کړه او زیاته یې کړه، چې پر ولسي جرګه څوک فشار نه شي راوړلی او هره پرېکړه په خپله خوښه کوي.

پنتاگون تعداد "بالون‌های تجسسی " خود را ...

مطالعات استراتیژیک و بین‌الملل تصریح کرد: فصل تابستان امسال بسیار تعیین کننده و حیاتی است. اگر ما خود را آماده نکنیم، به موفقیت در جنگ دست نخواهیم یافت.

کارتر افزود: در این راستا تعداد بالون‌های تجسسی اردوی امریکا در افغانستان افزایش می‌یابد، تا سربازان پیاده نظام دارای "چشم در آسمان" شوند.

براساس گزارش خبرگزاری رویترز، بالون‌های تجسسی مجهز به دوربین‌های پیشرفته و توانایی ارسال عکس به پایگاه‌های اردوی امریکا بر روی زمین هستند. این بالون‌ها کمک می‌کند، تحرکاتی که باعث به خطر افتادن جان سربازان می‌شود، مورد شناسایی قرار گیرد؛ از جمله کارگزاری بم‌های جاده‌یی.

وی افزود: افزایش تعداد بالون‌های تجسسی از لحاظ اقتصادی به صرفه است و قیمت آن، از ارسال طیاره های بدون سرنشین پایین‌تر می‌باشد.

وینه په بدن کې، سوله په وطن ...

واکمن هم دی. دوی اکثره وخت حتی ځان هم نه مني، نیمه ورځ یې په ځان نیت بد وي نیمه ورځ په نورو. خو خبر نه دي چې د ملوك طوایفۍ په وخت! کې یې د کابل پوهنتون ونې هم چور شوې او د افغانستان علیا منافع څه چې د افغانستان سفلی منافع هم د محوې له خطر سره مخ و او تر ډېره محوه هم شول.

اوس د سولې د ملي جرګه چې وطن یو پرسیدلی درد پرې دوا کیږي، د جوړېدو په مخ کې یې خنډونه په یو او بل نوم راولاړوي، دوی استدلال کوي چې طالبان جنایتکاران دي، له ولس سره یې ظلم کړی، حکمتیار جنایتکار بولي خو په دې ولس یې خپلې ناکردې ورته افسانې او په ولس لوربینه ښکاري. دوی دغه پروسه داسې له یو او بل اړخه تخریبوي چې: باید شفافه وي، د ټول ولس سره په مشوره وشي، معامله باید ونه شي او .....

په دې مانا، که دوی دې پکې ونه پوښتل نو له ولس سره مشوره نه ده شوې، که دوی دې پکې شریك نه کړل چې خپلې سپړې پکې وګوري نو شفافه نه ده او د ولس منافع پکې تر پښو لاندې شوي. ځکه ددوی له نظره ولس یوازې دوی دي او بس. خلاصه دوی ته ځان هم ولس ښکاري او هم ددې هیواد منافع علیا. دوی تر پښو لاندې یوه لویشت ځمکه ویني، خو دیته یې پام نه دی چې مشکل دومره ورځ تر بلې بحراني کیږي، چې که دا نړیوال نه وي والله که یې څوك دوړه په هندوکش کې هم ووینې.

نو څنګه او څه وشي؟

دا چې د سولې خبرو ته یو څه دروازه وربېرته شوې، نو په اصطلاح ددغه سازنده! انتقادچیانو مخه دې ونیول شي چې دغه پروسه د خپلو شومو هوسونو په بدل کې تخریب نه کړي، د معلوماتو له مخې، ددغه پروسې د خنډ پیداکیدو لپاره هر راز هڅې کیږي. د دوی نارې او سورې باید ونه اوریدل شي، ولس ته جګړه د دوی ډالۍ ده او نور باید د واقعي سولې هڅه ګړندۍ شي. ځمکه هغه سوزي چې اور پرې بل وي، نو اوس وینه هم د هغو په بدن کې او سوله د هغو په وطن کې نشته چې هر څه ورځخه جګړو لوټ کړي. تاریخ ددې شاهد دی چې د اوسني بحران قرباني د دواړو پولو پښتانه دي. په مذاکراتو کې هم باید ددغه سیمو استازو ته اولویت ورکړل شي، چې خپل درد له نورو سره شریك کړي او د سولې ارزښت ورته جوت دی. هغوی چې په هر څه کې په شخصي معاملو پسې ګرځي او د نورو له سرونو او حقوقو سره لوبې ورته یوه معمولي خبره وي، دغه مجالسو ته باید لاره ونه کړي. تجربوي یې او له ناکامۍ سره یې مخ کوي. په ورته وخت کې، دولت چې نن حاکم دی، حق داده چې د ولس د حقوقو د ورکولو لپاره هر قیمت ته غاړه ورکړي، هغه قیمت چې ولس یې په بدل کې سوله ترې غواړي. یانې که مخالفین انعطاف نه کوي، دولت باید له زیات انعطاف څخه کار واخلي. په دې کې به هغه تیروتنې هم جبیره شي چې باید په لومړیو کې له مخالفینو سره دا کار شوی وی او د ځینو نامتجانسو کړیو د شخصي عقدو ښکار شوی نه وای. که چیرته دغه انعطاف دولت ونه ښیي، بیا هم د بریالیتوب چانس یې هسې ګفتار دی چې له کردار سره بې حده زیات واټن لري. په دغه انعطاف کې به د دولت صداقت هم جوت شي، او د بې اعتمادۍ فضا به هم له منځه لاړه شي، کوم چې مخالفین هیڅ باور په دولت نه لري. واقعي خبرې دې وشي. د مشکل په هسته دې تمرکز وشي، په دې مانا چې مستقیمې دې له طالبانو سره چې نن یې د جګړې کلۍ په لاس کې ده، باید تماس ونیول شي او هغوی ته بلنه ورکړل شي او خبرې ورسره وشي. هر څه چې مخالفین یې غوښتونکي دي، باید په روښانه توګه د دولت له لوري ورته تضمین شي، داسې نه چې هلته یې نومونه په تور لیست کې وي او هلته امریکا کرزي صیب ته اخطار ورکوي چې که حکمتیار دې په ارګ کې ترڅنګه ناست هم وي، دوی به یې نیسي، دلته بیا صداقت او صلاحیت منتفي دی چې اصلا بیا افغاني جرګه نه شو ورته ویلی او نه بیا مخالفین ګرم دي. یانې د اعتماد داسې فضا رامنځته کړل شي چې امریکایي او شخصي مجرمو کړیو له خوا د عقدې بوی ترې راونه وزي. دولت ځکه په دغه انعطاف مکلف دی چې امنیت ورځ تر بلې د خرابیدو په حال کې دی، ولس د مرګ له خطر سره یو وار بیا مخامخ کیدونکی دی، ځکه جګړه ورځ تر بلې خپله لمن پراخوي. دولت په لوی لاس په دننه او د باندې کمزوری کیږي او له دغه فرصته داسې استفاده کیږي چې هر څه به مو له لاسه ورکړي وي، نو دیته په کتو، هره ډله باید لومړی اسلام، افغان ولس او افغانیت په نظر کې ونیسي، او له افغاني وجوده دا دیرش کلنه د سرطان ناروغي د تل لپاره محوه کړي. د همدې ورځې په هیله.

کرزی دې د تېر پرځای راتلونکي ته فکر ...

د کرزي د څرګندونو په اړه د واشنګټن غبرګون، کابل ته د بارك اوباما له سفره یوه اونۍ وروسته ترسره کیږي.

د پژواک د رپوټ له مخې، ولسمشر کرزي یوه ورځ وروسته له هغه په تېرو ټاکنو کې بهرنیان په درغلیو تورن کړل، چې ولسي جرګې د ټاکنو د قانون په اړه تقنیني فرمان رد کړ.

د تعدیل شوي قانون له مخې، ولسمشر کرزي د ټاکنو د شکایتونو د کمېسیون د ټولو پنځو غړو د ټاکلو واک په لاس کې اخیستی و.

وینه په بدن کې، سوله په وطن کې

لیک: امان الله ایمان



دیرش کلونه کیږي چې بې سولې یو:

دیرش کاله وشول چې بې سولې یو، تیر دیرش کلن نسل د جګړو په تاو کې رالوی شو، تیر دیرش کلن نسل د سولې مخ نه دی لیدلی، د کمونیستانو په کودتا، له دې وطنه سولې کډه وشول، ملکي کسان بې دریغه خاورې شول، بشپړه سروې خدایزده څومره وي خو دا دیرش کاله په متفاوته توګه د جګړو لمن لنډه شوې نه ده. سوله او جګړه دوه متناقضې کلیمې دي، که یو وي، طبیعي ده چې دا بله به ترې کډې باروي. دا دیرش کاله خدایزده د کومې بدبختۍ له لاسه، د افغانانو جګړه په پچه ختلې ده.

بې سولې وطن لکه بې وینې بدن:

انسان په وینه پایي، بې وینې بدن له څو ورځو وروسته خپل پایښت بایلي، که په ټوله کې دا هیواد د یو بدن په بڼه تمثیل کړو، سوله د یو هیواد لپاره د وینې شکل لري، په دې مانا، چې جګړه وینه بهوي او سوله د وینو بهولو لړۍ ته پاټك اچوي او تم کوي یې، نو چې په یو بدن کې وینه وي بڼه به وي او که وینه ترینه د ټوپکو او چړو په زور ووزي؟ د افغانانو د بدن (افغانستان) د نه پایښت لوی لامل له دغه بدنه د وینو څو کلن جریان او سیلان دی. د وینو دا شان لاینقطع جریان اخر بدن په مداومه او ساري ناروغۍ اخته کوي، د سرطان دانې په شان، چې علاج یې د طبیبانو له وسه لوړه خبره وي، د دا ډول ناروغیو علاج د بخت خبره وي. نو افغانان د بې سواده طبیبانو له لاسه دا دیرش کاله بې وینې دي، بې وینې بدن غړي حرکت پریږدي، ټول څه له لاسه ورکوي، ان ډوډۍ خوړلو لپاره هم بل ته اړتیا لري، له ځانه سره سوچ وکړه چې دا دیرش کاله همداسې نه یو، د نړۍ تر ټولو زیات مهاجر افغانان دي، تر ټولو فقیران دي، تر ټولو معتادان افغانان دي، تر ټولو زیات نشه یی توکي په افغانستان کې دي او بالاخره سمه د قاتلینو قرارګاه ترې جوړه شوې. افرین پر دې چې لاهم په ژوندیو کې شمیر یو. د افغانستان ناروغۍ د سرطان تر بریده رسیدلې څه چې ترې اوښتې ده، د افغانستان په ټول ولس یې منګولې خښې او وینه یې زبیښې. علاج یې د قرن معجزه ده.

د علاج ستونزه!

وکړه، ډله ییزې وژنې زور اخلي، د قلم په ځای د دې هیواد د نسل په لاسونو کې د ټوپك شپیلۍ چلیږي. کمونیستانو په دې وطن کې د انسان مرګ د چرګ تر مرګ هم اسانه او ارزانه کړ، د افغانستان ډیر کدرونه دوی د تل لپاره له دې ولس څخه مېلمانه! کړل، بدبختي پیل شوه. وروسته جنګ نړیواله بڼه اخلي، متقابله وژنې رامنځته کیږي، د وژنو، معیوبینو، کونډو، یتیمانو، مهاجرو او ورکو شویو شمیره میلیونو ته جګیږي، په نړۍ کې تر ټولو د افغان مهاجرو شمیره لوړه ده. لوبه تر ډیره د افغان په خاوره کې توده ده، قرباني یې هم افغانانا دي. وروسته روسان وزي، د جهاد علمبرداران په افغانانو چپه میچنې تاووي، کابل دا ځل بیا د خپلو په لاس د قدرت د هوس په لمبو کې ساه ورکوي، د وینو ویالې یې پرمخ راماتې دي، د کابل په ویالو کې د اوبو پر ځای وینې درومې، د تلفاتو شمیره تر زرهاوو هم اوړي، وژونکي خاموشي حاکمه ده، د اسلام د ټیکه دارانو په لاس د سورو وینو بازار ګرم دی. په کابل کې د قرن د وژنو ریکارډ مات دی، په څو کیلومترۍ کې ملوك الطوایفۍ دي، چې یو له بله سره نه پخلاکیدونکي دریځونه لري، دا رنګه چې هر یو بیل قوانین، بیل اصول او د کابلیانو د وژلو لپاره له ځانه سره بیل جوازونه لري. په دغه دوره کې اصلي خبره د قحط السلاطین ده. دا حالت دوام کوي، دا ډیره دردوونکي مرحله ده، لړزوونکي پیښې په مکروریانو او د کابل په نورو سیمو کې رامنځته کیږي. په محص وژنو یې زړه نه یخیږي، د ښځو او انسانانو د جسد اندامونه لاپرې شول. د دغه ټولو لوبو محصول طالبان راوزي، په هیواد کې امنیت دی او بس، نور هر څه له لاس وتلي، له نړۍ لکه مرور بې خبره یو. له هیچا سره کار نه لرو، اقتصاد ورځ تر بلې مخ په ځوړه ځي، جګړه مداومه ده، وژنې لاهم روانې دي. موقته اداره راغله، وژنې بیا پسې ګرمې شوې، بمبارونه دا ناروغۍ باید تداوي شي، کنه په ناسور به واوړي. په ځانګړې توګه په اتو وروستیو کلونو کې ورځ تر بلې دغه لړۍ خطرناکه بڼه خپلوي. د سیمې د هیوادونو رقابت دغه جګړه په خپله غیړه کې نیولې چې بیا هم د تیر وژونکي تاریخ د تکراریدو ویره شته. یانې بنایي بیا د تیر په شان بیا افغان ولس قرباني ورکړي. اوس چې نړیواله ټولنه هم په افغانستان کې شته، که د زړه له تله کار وکړي، هر څه تضمینېدای شي، د ملوك الطوایفۍ د رامنځته کیدو مخه تر ډیره ډب ده، او د دوی پښه هم تر ډیره ټینګه ده. د ملګروملتونو جواز او مشروعیت له ځانه سره لري، خو دا په دې مانا هم نه چې نړیواله ټولنه دې د افغانانو د ټول عمر تضمین واخلي، دا نه افغانان مني او نه شونې ده. خو دا چې د نامعلومو لاملونو له لاسه، لاتر اوسه د ستونزې د علاج هڅه نه ده شوې، او د سیمې د هیوادونو رقابتونه ورځ تر بلې د یو او بل پر وړاندې اور او زور اخلي، نو دا خطر شته چې افغانستان یو ځل بیا قربانۍ ته سم شي. که د ستونزې په جدي حل لاس پورې نه شي، لرې نه ده چې په هیواد کې خطرناکه او ګواښنده تحولات رامنځته شي چې بنایي بیا هم د افغانانو په ګټه نه وي. تاسو وینی چې په دې وروستیو کې د جګړې بڼه هم اوړي او مخالفان ورځ تر بلې ځواکمنیږي، په سیمه کې د امریکا شتون ته ګوته نیول کیږي، په دې مانا چې د دولت مخالفین د امریکا پر وړاندې مشروعیت مومي او عملا ځینې هیوادونه ورسره مرسته کوي او خپله غیړه او موټی یې ورته پرانیستې دی. لویه ناکامي دا وه چې اته کاله وړاندې د هیواد واك د داسې نامتجانسو ځیرو په لاس کې پریوت چې د طالبانو د خطر احساس یې نه کاوه او په دغه نوم یې عملا ولس وځوراوه. دا جګړه تر ډیره د ځینو ناکامو مهرو د غلطو مشورو او کردار محصول هم بللی شو، چې په مجموع کې یې د یوه لوی وسله وال اپوزیسیون رامنځته کیدو ته لاره پرانیسته.

کومې کړۍ سوله نه غواړي، ولې؟؟

غلطې او نامتجانسې کړۍ غلطې مشورې ورکوي، او غلطې مشورې بیا غلطې پایلې ورکوي چې محصول یې بحران دی. که له پیله د یوه افغان په توګه له مخالفینو سره چلن شوی وای، بنایي دوی هم نن د افغاني ټولنې د سوله ییز ژوند یوه برخه وی. د کورنیو عقدو سرلاري چې بیا ځلې په قدرت شول، غربي یاران یې ناسم وپوهول، دوی ځانونه د سولې علمبرداران او معصومې ملایکې او طالبان قاتلان معرفي کړل، چې حقیقت داسې نه دی. په لوی لاس د دښمن کم ګڼل دا دښمن په خپله لویول دي. د طالبانو پر وړاندې همداسې وشول، چې نن په سیمه د یوه لوی وسله وال قدرت اوښتو په درشل کې دي. دا کړۍ ځکه داسې مشورې ورکوي، چې د طالبانو یا مخالفینو په شتون کې دوی خپله کمه ویني. بیا بنایي دوی ته میدان داسې خالي نه وای لکه دا نن، د همدغه علت په بنسټ، په ډول ډول نومونو ددوی له لاسه په ولس ظلم ور تحمیل شو، چې اته کاله یې پایله دا شوه چې د هیچا (تر دوی پورې) سر نن خوندي نه دی. دوی په اصطلاح ځان د سولې سپینې کوترې بولي او نور ټول ددې ملت غله او قاتلان دي، خو خبره سرچپه ده. د دوی تر ټولو ښه انتقاد زده دی، خو د ځان عیب ورته د خپلو ولیو منځ دی. دوی په اصطلاح ډیر سازنده! انتقادچیان دي، خو خپلو هغو ناشولتو ته یې پام نه دی چې په دې ولس یې د خپل ملوك الطوایفي په جریان کې چپه میچنې تاو کړې. دوی په دې ډول سازنده انتقادونو! د خپلې خیټې عقدې سړوي، دوی ته یوازې ځانونه د ولس حقه استازي ښکاري او نور جعلي واکمنان بولي خو که یې د واکمنۍ د پولو پوښتنه ترې وکړې بنایي تاریخ په دې خوښ وي چې دغه باب ته له شرمه اور ورته کړي. دوی ځان د ولس له غمه مړ بولي خو تر اوسه یې په دې ولس د واك او راج چلولو تومنه په وجود کې نه ده پیدا شوې. خلاصه دا، هغه چې دوی په کې دخیل نه وي یا ددوی له شخصي ګټو سره په ټکر کې وي، هغه د ولس له ګټو سره ټکر بولي، دوی ته ځان پوره ولس ښکاري، دوی خپل باډیګارډان د وزارتونو لایقان ګڼي، چې په هغه صورت کې دا یو ولسي او د خلکو په خوښه امر یا

۳مخ

کشته شدن سربازان آلمانی، موضوع افغانستان را باردیگر داغ کرد

به دنبال کشته شدن حداقل سه سرباز آلمانی و مجروح شدن ۸ تن دیگر در حملهٔ روز جمعهٔ نیروهای طالبان در ولایت کندز، بار دیگر موضوع مأموریت افغانستان، به یک بحث داغ در آلمان تبدیل شده است.

در حملهٔ روز جمعهٔ نیروهای طالبان به سربازان آلمانی در منطقهٔ چهاردره کندز، سه سرباز آلمانی کشته شدند. سربازان آلمانی در حال ماین یابی بودند که مورد هجوم ده ها تن از نیروهای طالبان قرار گرفتند.

رهبران سیاسی آلمان خیلی زود این حمله را محکوم کردند و آنگلا مرکل صدراعظم، حملهٔ طالبان را بزدلانه و انزجارآور خوانده و همدردی خود را در این شرایط دشوار، با وابستگان سربازان قربانی و مجروح اعلام کرد.

کارل تئودور زوگوتنبرگ وزیر دفاع نیز مرخصی خود را در آفریقای جنوبی ناتمام گذاشت و به کشور بازگشت.

ولی وی تاکید کرد که هیچ برنامه یی برای عقب نشینی زودهنگام نیروهای این کشور از افغانستان، وجود ندارد.

با کشته شدن این سربازان شمار پرسونل نظامی آلمان که از سال ۲۰۰۱تاکنون در افغانستان کشته شده‌اند، به ۳۹ تن رسید و

انتظار می‌رود که این موضوع بار دیگر بحث‌های عمومی در بارهٔ اهداف عملیات نظامی برلین در افغانستان را احیا کند.

این در حالی است که اکثر آلمانی‌ها مخالفت شدید خود را با ماموریت نظامی کشور شان در افغانستان ابراز کرده‌اند و این کشور در سال های اخیر، شاهد اعتراضات زیادی علیه جنگ افغانستان بوده است.

راهپیمایی‌های سنتی صلح عید پاک در روزهای پایانی هفتهٔ جاری در سرتاسر آلمان نیز، بار دیگر این مسأله را در آستانهٔ انتخابات کلیدی منطقه یی در ماه آینده، در ایالت نور در این وستفالن مورد توجه قرار خواهد داد.

مطبوعات آلمان نیز بار دیگر هدف از فرستادن سرباز به افغانستان را زیر سوال برده و می‌گویند که دولت راست میانه یک استراتیژی شفاف سیاسی و نظامی در بارهٔ افغانستان ندارد.

روزنامهٔ لاوزیتسر روندشاو چاپ شهر کوتبوس در سرمقاله یی در این‌باره نوشت: برلین تاکنون جواب مشخصی دربارهٔ اینکه اصلا چرا باید سربازان آلمانی در افغانستان باشند، نداده است.

در عین حال، روزنامهٔ نورد کوریر چاپ شهر نوی براندنبورگ نیز، خواهان عقب نشینی سریع سربازان آلمانی از افغانستان به خاطر وخیم شدن وضعیت امنیتی در این کشور شد.

این روزنامه نوشت: این سیاستمداران بودند که سربازان آلمانی را به افغانستان

ص۳

اراده ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۵ ۶۲ ۵۹ ۷۰۰
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
گزارشگر: امان الله "ایمان" ۰۷۷۸۸۷۷۷۳۵
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل: erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com